# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۱۱مه | د ۲۰۱۹ د جنوري لومړۍ | دویم کال | ۳۱۰مه ګڼه


## د یمن په جګړه کې د افغانانو جنګېدل؛
# نیویارک ټایمز ویلي، په یمن کې زرګونه کم عمره افغانان جګړه کوي



۳


د واک د ناقانونه دوام مخنیوی پکار دی؟ ۲ مخ

په افغانستان کې د داخلي کډوالو وضعیت او اړتیاوې ۲ مخ

له خپل کار او مسلک سره مو مینه پیدا کړئ ۵ مخ


## ځیره
۴ مخ





## په لغمان کې سږ کال د سبزیجاتو حاصلات زیات شوي دي



د لغمان ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست مسوولان وايي، سږ کال د دغه ولایت د ترکاریو او سبزیجاتو په حاصلاتو کې زیاتوالی راغلی دی.
د دغه ولایت د کرنې رییس محمدجمیل خوشحال پرون ازادي راډیو ته وویل، روان کال د دغه ولایت په ۷ زره او ۲۰ هکتاره ځمکه ترکاري کرل شوې وه چې تر اوسه یې حاصلات ۱۶۵ زره مټریک ټنو ته رسېدلي دي.
ښاغلي خوشحال وویل، په دغو سبزیجاتو او ترکاریو کې، بادرنګ، تور بادنجان، بامیه، رومیان، ګُلپي، کدو، پیاز، کچالو، کاهو، سپینه مُلۍ، مرچک او شلغم شامل دي.
د ښاغلي خوشحال په خبره، له دغه ولایته هره ورځ په لسګونو موټره سبزي او ترکاري کابل او نورو ولایتونو ته انتقالېږي او د یاد ولایت کروندګر له دې درکه ښه عاید ترلاسه کوي چې تر ډېره د دوی ستونزې هم ورسره راکمې شوې دي.

## د ګډو ځواکونو په عملیاتو کې د پکتیا د سولې شورا د غړي په ګډون پنځه ملکیان وژل شوي دي

د پکتیا په زرمت ولسوالۍ کې د هوايي برید په ترڅ کې د سولې عالي شورا د ولایتي کمېټې د یوه غړي په ګډون، د هغه د کورنۍ پنځه غړي وژل شوي.
وړمه شپه د پکتیا د زرمت ولسوالۍ په سرکۍ سیمه کې پر یوه کور د هوايي ځواک په ملتیا عملیات شوي، چې د سولې شورا د ولایتي کمېټې د یوه غړي په ګډون یې څو نور کسان هم وژل دي.
د سیمې اوسېدونکي وايي، عملیات د پخواني جهادي قوماندان، قومي مشر او د سولې شورا د ولایتي کمېټې غړي محمدنعیم پر کور شوي چې د نوموړي په ګډون یې ورور، زوی او درې نور دوستان پکې وژل شوي دي.
د زرمت ولسوالۍ د صالح خېلو کلي اوسېدونکی عبدالله وايي، په سیمه کې ګډو ځواکونو ځمکني او هوايي عملیات کړي چې یادو کسانو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده.
بلخوا د پکتیا ولایت امنیتي مسوولین هم یاد عملیات مني، خو وايي چې د مرګ ژوبلې په اړه لا دقیق معلومات نه لري چې وژل شوي کسان وسله وال طالبان دي او که ملکي خلک.
د یادونې ده چې په دې وروستیو کې هوايي بریدونه او شپني عملیات د بل هر وخت په پرتله زیات شوي چې ډېری وخت عامو خلکو ته پکې مرګ ژوبله اوړي.

## د اماراتو له ناستې وروسته طالبانو تهران ته دویم سفر کړی



۲ مخ

## یوناما: مدیریت نادرست انتخابات ریاست جمهوری قابل پذیرش نیست



دفتر نماینده‌گی سازمان ملل متحد در افغانستان یا یوناما، از اعلام تقویم تازۀ انتخابات ریاست جمهوری افغانستان استقبال می‌کند و می‌گوید که کمیسیون مستقل انتخابات باید تقویم مفصل این انتخابات را به‌زودی نشر کند.
کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان، دو روز پیش تقویم برگزاری انتخابات ریاست جمهوری را اعلام کرد که برمبنای آن، این انتخابات با سه ماه تأخیر در ۲۹ ماه سرطان سال آینده برگزار خواهد شد. قرار بود این انتخابات در ۳۱ ماه حمل سال آینده برگزار شود. رئیس کمیسیون انتخابات گفت که این نهاد برای برگزاری انتخابات ریاست جمهوری در ماه حمل، با مشکلاتی چون ناامنی، سردی هوا، تکمیل نبودن ظرفیت تخنیکی و عملیاتی کمیسیون انتخابات و ناهماهنگی‌ها روبه‌رو بود. عبدالبدیع صیاد ابراز امیدواری کرد که این مشکلات تا ماه سرطان حل شوند.
یوناما می‌گوید که انتخابات ریاست جمهوری برای افغانستان حیاتی است و نباید در این انتخابات ضعف مدیریت وجود داشته باشد. در خبرنامۀ این نهاد آمده است: «ملل متحد تأکید می‌نماید که انتخابات ریاست جمهوری برای آیندۀ افغانستان حیاتی است و مدیریت نادرست آن غیر قابل قبول می‌باشد». دفتر نماینده‌گی سازمان ملل، از آن‌چه که بی‌نظمی‌ها در برگزاری انتخابات ولسی جرگه افغانستان می‌گوید، انتقاد می‌کند و تأکید دارد که باید اصلاحات در کمیسیون انتخابات بوجود آید.

## د نوي کال په مناسبت د چین د لوی سفیر د مبارکۍ پیغام



په افغانستان کې د چین لوی سفیر
**لیو جین سونګ**

ګرانو افغانانو، یو کال کېږي چې زه افغانستان ته راغلی یم. زه له زړه احساسوم چې دا یو په زړه پورې او ښه ځای دی. خلک یې ډېر مېړني، صادق او رښتیني دي. د افغانستان د بېلابېلو برخو وتلي او ښه شخصیتونه له چین سره د زړه له کومې دوستي او مینه لري. د چین د اصلاحاتو او ورخلاصون د لاسته راوړنو لوړه ستاینه کوي او هیله لري چې چین د یو لوی هېواد په توګه د افغانستان په بیارغونه کې مهم رول ولوبوي. دغه څه پر ما باندې تاثیر کړی او زما لا هڅونه کوي. دا هم د چین او افغانستان ترمنځ د اړیکو د پرمختګ خوځنده ځواک دی.
۲۰۱۹ میلادي کال د افغانستان د خپلواکۍ له سلمې کلیزې او هم د چین ولسي جمهوریت د جوړېدو له اویایمې کلیزې سره برابر دی. د دواړو هېوادونو د خپلواکۍ او ملي ازادۍ د یادونې په وخت کې، زه د زړه له کومې هیله لرم چې په افغانستان کې ژر سوله او ثبات رامنځته شي، د افغانستان د ملي جوړجاړې بهیر بریالی شي او هغه مهم سیاسي جریان په ثابته توګه روان او تر سره شي، کوم چې د افغانستان خلک غواړي او په هغه کې یې برخه خپل حق دی. د چین او افغانستان د خلکو زړونه تل سره تړلي او یو له بل سره مرسته کوي. چین د افغانانو تر لارښوونې او مالکیت لاندې د سیاسي روغې جوړې او پخلاینې له جامع جریان څخه ټینګ ملاتړ کوي او په دوامداره توګه به د افغانستان د سولې او پرمختګ لپاره رغنده رول ولوبوي.
نوی کال مو مبارک شه، نېکمرغه اوسئ، تل دې وي د چین او افغانستان ترمنځ دوستي!

دریځ

## د واک د ناقانونه دوام مخنیوی پکار دی؟

د ټاکنو کمېسيون لـه خـوا د ټاکنـو ځنډ دا اندېښنې را پورته کړې دي چې د ملي يووالي حکومت به په ناقانونه ډول دوام کوي او په دې ډول به يو ځل بيا اساسي قانون تر پښو لاندې کېږي. د ټاکنو کمېسيون که څه هم د راتلونکي کال د وري ۳۱مه د ولسمشريزو ټاکنو ورځ اعلان کړې وه، خو اوس وايي چې ټاکنې به د چنګاښ په ۲۹مه کېږي. کمېسيون وايي چې په اداره کې يې د لازم ظرفيت نشتوالی، ناامني، د ولسمشريزو ټاکنو لپاره د نوماندانو د ثبت پخ بهير، د رايې ورکوونکو نوملیکنه او ځيني نورې ستونزې د دغه ځنډ لاملونه دي. اوس اساسي پوښتنه دا ده چې که ټاکنې ځنډېږي، د ملي يووالي حکومت برخليک به څنګه کېږي او څنګه به د ناقانونه واکمنۍ د دوام مخه نيول کېږي؟

اساسي قانون په دې تړاو صراحت لري او د ولسمشر او ټاکنو کمېسيون په ګډون هېڅوک حق نه لري چې قانون تر پښو لاندې کړي. د دغه قانون په يوشپېتمه ماده کې راغلي: «د ولسمشر دنده د پنځم کال د غبرګولي مياشتې په لومړۍ نېټه پای ته رسېږي او د نوي ولسمشر د ټاکلو لپاره ټاکنې هم د ولسمشر د کار له پای ته رسېدو مخکې د ديرشو او شپېتو ورځو په موده کې ترسره کېږي.» کله چې د قانون دومره صراحت او وضاحت وي، نو له ټاکلې موده وروسته ټاکنې په هېڅ ډول جواز نه لري. دا سمه ده چې د ټاکنو کمېسيون خپلواک دی، خو د دې خپلواکۍ معنا دا نه ده چې دوی د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون خلاف ګام پورته کولی شي.

د ټاکنو کمېسيون لومړۍ ستونزه دا ده چې خپلواکي نه لري او هر څه چې حکومت ورته وايي، همغسې کوي. د ټاکنو کمېسيون اوسنيو غړو د ولسي جرګې ټاکنې وشرمولې. له دې امله چې دوی له دندې ګوښه نه شي، نو ژر يې اعلان وکړ چې ټاکنې به د وري مياشتې په ۳۱مه کېږي، خو وروسته چې کله ارګ ورته وويل چې ټاکنې درې مياشتې وځنډوئ، همغسې يې وکړل. دوی ولسمشر ورغواړي او هر څه چې ورته وايي، همغسې کوي. يوازې ولسمشر هم نه دی، بلکې د ټاکنو کمېسيون په چارو کې د ولسمشر دويم مرستيال ډېره لاسوهنه کوي او تل په ټاکنيزو چارو کې د ولسمشر پر ځای هغه تصميم نيسي. د دې ترڅنګ په ارګ کې د ولسمشر سلاکاران هم تل کمېسيون ته وايي چې کوم کار وکړي او کوم کار ونه کړي. له دې امله چې د کمېسيون غړي کمزورې اراده لري، د فساد تورونه پرې لګول شوي او ان ښايي د ارګ له خوا بلک مېل شوي وي، نو دوی هېڅ پرېکړه هم خپله نه کوي او د ارګ هره غوښتنه مني. له بله اړخه د ټاکنو کمېسيون ته قانون مهم نه دی، که نه؛ قانون صراحت لري او کله چې قانون صراحت ولري، نو بيا هېڅوک حق نه لري چې بل تصميم ونيسي.

تمه نشته چې د ټاکنو کمېسيون دې د چنګاښ په ۲۹مه هم ټاکنې وکړي، بلکې بيا به هم ځنډول کېږي. د دې شونتيا شته چې ټاکنې به ۲۰۲۰ ز کال کال ته ولاړې شي او په دې ډول به د ملي يووالي حکومت په ناقانونه ډول خپل واک غځوي. اوس بايد د سياستوالو، سياسي ګوندونو او ولس ګډ کار دا وي چې د دغه ناقانونه واکمنۍ مخه ونيسي، افغانستان بېرته قانوني واکمنۍ ته را وګرځوي او پرې نږدي چې د واک يوه ورې ډله پر قانون، ملي ګټو او ارزښتونو پښې کېږدي او خپله ناقانونه واکمني وغځوي. که ټاکنې د سياسي او تخنيکي دلايلو او يا هم د سولې د پروسې د اړتيا پر اساس ځنډول کېږي، نو پکار ده چې تر ټاکنو پورې موقت حکومت جوړ شي.

# په افغانستان کې د داخلي کډوالو وضعیت او اړتیاوې

ليکنه: د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري يا اوچا (OCHA) له لوري په وروستي خپاره شوي راپور کې ويل شوي چې سږ کال په افغانستان کې د جګړو او وچکالۍ له کبله شاوخوا پنځه نيم لکه افغانان له خپلو سيمو بېځايه شوي دي. راپور دغه راز کاږي چې اوسمهال په افغانستان کې په ټوليز ډول ۶،۳ ميليونه افغانان بشري مرستو ته اړتيا لري، خو په دې ډله کې ۳،۷ ميليونه يې هغه افغانان دي چې په جدي توګه مرستو ته اړتيا لري.

په افغانستان کې له تېرو ۱۷ کلونو راهيسې د جګړو او طبيعي پېښو له امله هر کال سلګونه زره افغانان د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ کېږي. دغه بېځايه شوي افغانان د هېواد ښارونو او يا هم نسبتاً امن سيمو ته ګډوال کېږي چې هلته هم د ډېرو بشري اړتياوو له کمښت سره مخ وي.

په افغانستان کې د داخلي بېځايه شوو وضعيت، د بېځايه کېدو لاملونه او دا چې په دې برخه کې څه کول پکار دي؟ هغه موضوعات دي چې دلته پرې بحث کوو.

**داخلي کډوال**

د جګړو او طبيعي پېښو له امله په افغانستان کې د خلکو بېځايه کېدل او نورو سيمو ته کډوالي، له تېرو څو لسيزو راهيسې يو ستره ننګونه ده چې افغانان ورسره لاس او ګرېوان دي.

په ۲۰۰۱ ز کال کې پر افغانستان د امريکا له يرغل وروسته د جګړو له امله د داخلي بېځايه شوو افغانانو شمېره ۱،۲ ميليونو تنو ته ورسېد، خو وروسته په افغانستان کې د امنيت له ټينګېدو سره سم دغه شمېره ۶۵۰ زرو تنو ته راکمه شوه او تر ۲۰۰۶ ز کال پورې د افغانستان د امنيتي وضعيت د ښه والي له کبله د داخلي بېځايه شوو شمېر همداسې مخ پر کمېدو و.

له ۲۰۰۷ ز کال وروسته د هېواد په ځينو ولايتونو کې د ناامنۍ له زياتوالي سره سم، ورو ورو په کور دننه بېځايه شوي کډوال هم مخ پر زياتېدو شول چې شمېر يې د ۲۰۱۵ ز کال د مې تر پايه شاوخوا (۹۱۶۴۳۵) تنو ته ورسېد.

دا چې له ۲۰۱۵ ز کال را وروسته د افغانستان امنيتي وضعيت ورځ تر بلې مخ په خرابېدو شو، په هېواد کې يو ډول سياسي بې ثباتي رامنځته شوه، د خلکو اقتصادي وضعيت خراب او بېکاري خورا زياته شوه، نو ورسره جوخت د افغانستان دننه د داخلي ګډوالو شمېر هم زيات شو.

په ۲۰۱۶ ز کال کې په ټوليز ډول شاوخوا ۵۰۰ زره افغانان د هېواد دننه د جګړو او طبيعي افتونو له امله کډوال شوي وو. دغه شمېره په ۲۰۱۷ ز کال کې ۶۰۰ سوه زرو ته لوړه شوه او د «اوچا» اداري د وروستي راپور پر بنسټ د ۲۰۱۸ ز کال په تېرو ۱۱ مياشتو کې څه باندې ۳ سوه زره افغانانو يوازې د جګړو له کبله له خپلو سيمو نورو سيمو ته کډې کړې دي.

په دغه راپور کې ويل شوي چې د بېځايه شوو افغانانو دا شمېر که څه هم د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۳۶،۶ سلنه را کم شوی دی، ځکه تېر کال په همدې موده کې ۴۸۲۹۰۹ افغان له خپلو سيمو کډه شوي وو، خو له يوې خوا اوسمهال د بشري مرستو اړتيا دوه چنده شوې او له بلې خوا په تېرو کلونو کې له خپلو مېنو را کډه شوو افغانانو ته خپلو سيمه ته د بېرته تګ زمينه نه ده برابره شوې.

له همدې امله د تېرو کلونو پر بېځايه شوو، کال په کال نور بېځايه شوي هم ور زياتېږي چې په دې توګه په ښارونو کې يو نوی بحران رامنځته کېږي.

**د داخلي کډوالۍ لاملونه**

په افغانستان کې د داخلي کډوالۍ د لاملونو په اړه لاندې څو ټکي د پام وړ دي:

جګړه: په هېواد کې ورځ تر بلې زياتېدونکې ناامني او وسلهوالې شخړې د داخلي کډوالۍ يو تر ټولو مهم لامل ګڼل کېږي. له تېرو ۱۷ کلونو راهيسې د داخلي بېځايه شوو يوه ستره برخه د هېواد په امنيتي وضعيت پورې تړلې ده. د بېلګې په توګه، په ۲۰۰۱ ز کال کې کله چې د جګړې ميدان ګرم و، نو داخلي کډوال هم زياته وو، خو له دې وروسته بيا تر ۲۰۰۶ ز کال پورې کله چې امنيتي وضعيت ښه شو، داخلي کډوالي هم راکمه شوه. له تېرو څو کلونو راهيسې، په ځانګړې توګه د ملي يووالي حکومت له راتګ سره له دې امله داخلي کډوال هم زيات شول چې جګړو زور واخيست، د خلکو پر کورونو او کليو بمبارۍ زياتې شوې او په لرې پرتو سيمو کې سيمه ييزو زورواکانو او ناقانونه وسله والو د خلکو ځورول پيل کړل.

طبيعي آفتونه: په افغانستان کې د داخلي کډوالۍ يو بل ستر لامل طبيعي آفتونه ګڼل کېږي. د مختلفو طبيعي پېښو، لکه وچکالۍ، سيلابونو يا د ځمکې ښويېدنې له کبله هم د هېواد دننه يو شمېر کورنۍ داخلي کډوالۍ ته مجبورې شوې دي. د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري يا «اوچا» په يوه مياشتني راپور کې چې د ۲۰۱۸ ز کال د اپرېل په وروستۍ نېټه نشر شوی، ويلي چې سږ کال په افغانستان کې وچکالۍ د هېواد په دوه پر درې برخې يا ۲۰ ولايتونو اغېزه کړې او کابو دوه ميليونه تنه د خوراکي توکو له سخت کمښت او لوږې سره مخ دي.

بېوزلي او بېکاري: د افغانستان دننه د کډوالۍ يو لامل بېکاري او بېوزلي ده. د بېوزلۍ او بېکارۍ له کبله د افغانستان د مختلفو سيمو خلک د نورو ولايتونو ښارونو، په تېره بيا پلازمېنې کابل ته په دې هيله را کډه کېږي چې په ښاري سيمو کې کاري فرصتونه زيات دي، خو له همدې امله په ښارونو کې نفوس زياتېږي او د نفوس له زياتوالي سره جوخت مختلفې ستونزې هم را پيدا کېږي.

**د خلکو د بېځایه کېدو پایلې**

په افغانستان کې له خپلو اصلي مېنو د افغانانو بېځايه کېدل ګڼې ستونزې را ولاړوي. يو هغه ستونزې دي چې په خپله همدې داخلي کډوالو ته متوجه دي او بل هغه ستونزې دي چې د دوی له لوري ټولنې او نورو خلکو ته متوجه وي.

له خپلو اصلي مېنو کډه کېدل له يوې خوا د همدغو کډوالو شته مېنې خاره کوي، هلته يې زراعت او کاروبار له منځه وړي، له بلې خوا دغو کډوالو او د دوی اولادونو ته هم ګڼې رواني او جسمي ستونزې پيدا کوي، ځکه دوی چې د نورو سيمو له حالت سره عادي کېږي، وخت نيسي او په دې توګه له زده کړو او نورو بشري اړتياوو هم بې برخې کېږي. دغه راز د کورنيو د سرپرستانو بېکاري او بېوزلي د دې سبب کېږي چې دوی درنو کارونو ته مخه کړي او په ښارونو کې د خپلو کورنيو لپاره روزي پيدا کړي. همدا اوس مهال په کابل ښار کې وينو چې سلګونه ماشومان پر درنو کارونو بوخت دي. دوی ډېری د هغو کورنيو غړي دي چې له نورو ولايتونو د جګړو او ستونزو له امله پلازمېنې کابل ته راغلي دي.

له بله اړخه، په ښارونو کې هم د دغو کډوالو ډېرېدل د ګڼو ستونزو د را پيدا کېدو لامل کېږي. د ښارونو ظرفيت کم دی او د نفوس ډېرېدل د دې سبب کېږي چې په ښارونو کې برېښنا او اوبه کمې شي او صحي ستونزې زياتې شي. دغه راز د نفوس د زياتوالي له امله امنيتي وضعيت په سمه توګه نه کنټرولېږي او په پايله کې يې جنايي پېښې زياتېږي.

**د داخلي کډوالو په اړه څه کول پکار دي؟**

په روانو حالاتو کې د جګړو او تاوتريخوالي او دغه‌راز د وچکالۍ له امله ګڼو افغانانو د ژوند کولو اساسي اسانتياوې له لاسه ورکړې دي، بشري اړتياوو او خدمتونو ته لاسرسی محدود شوی چې له امله يې دوی له ګڼو ستونزو سره مخ دي.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې د ژمي له را رسېدو سره ورځ تر بلې هوا سړېږي او که چېرې اړمنو کسانو ته مرستې ونه رسېږي، ممکن له سخت حالت او ستونزو سره مخ شي.

پر همدې اساس اړتيا ده چې افغان حکومت د هېواد دننه بېځايه شوو وګړو ته د ژوند خونديتوب امکانات برابر کړي. د دې ترڅنګ اړتيا ده چې افغان پانګوال وهڅول شي، څو د مرستو ترڅنګ د بېځايه شوو لپاره کاري فرصتونه هم برابر کړي.

پر دې سربېره اړتيا ده چې افغان حکومت د بېځايه شوو وګړو د اصلي سيمو امن کولو په برخه کې لاس په کار شي، بېځايه شوو افغانانو ته بېرته په خپلو کورونو او سيمو کې د ژوند کولو زمينه برابره کړي. له دې سره به نه يوازې دا چې د داخلي کډوالو ستونزې حل شي، بلکې په ښارونو کې به هم د ګڼو ستونزو مخنيوی وشي.

له دې ټولو سره سره که څه هم افغان حکومت له بېځايه شوو کورنيو سره د همکارۍ او لاس نيوي په خاطر له کاپي بودجې سره مختلفې اداري لري او دغه اداري سره له دې چې له بېځايه شوو سره په مختلفو برخو کې مرستې کوي، خو د نورو دولتي ادارو په شان دغه اداري هم له فساد څخه پاکې نه دي او له همدې امله ډېری وخت مرستې اړمنو کسانو ته نه رسېږي.


## عادله راز په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دايمي استازې ټاکل شوې ده

ولسمشرۍ ماڼۍ د بهرنيو چارو مرستياله وزيره عادله راز په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دايمي استازې ټاکلې ده.

دا لومړی ځل دی چې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان استازولي يوه افغانه ښځه کوي.

تر دې وړاندې محمود صيقل په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دايمي استازی و چې ويل کېږي اوس يې د کار موده پای ته رسېدلې ده.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه اداري يا يوناما پر ټوېټر له



ښاغلي صيقل څخه د دې ده د کاري مودې له پای ته رسېدو مننه کړې او اغلې راز ته يې مبارکي ورکړې ده.

عادله راز په اقتصادي اړيکو کې د بهرنيو چارو وزارت مرستياله وه چې څه باندې يونيم کال وړاندې پر دغه دنده ګومارل شوې وه. هغې د امريکا متحده ايالتونو کې په حقوقو، ډيپلوماسۍ او اقتصاد په برخه کې زده کړې کړې دي.

مېرمن راز په ۲۰۱۳ ز کال کې د ولسمشرۍ ماڼۍ د عامه اړيکو رياست او وياندوی دفتر لومړنۍ ښځينه مرستياله شوه.

محمود صيقل چې د ۲۰۱۴ ز کال تر ولسمشريزو ټاکنو وروسته يې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دايمي استازی وټاکل شو، د اجرايه مشر عبدالله عبدالله ټيم غړی دی.

په تېرو څلورو کلونو کې کله چې له خپلو ګاونډيانو سره د افغانستان په سياسي اړيکو کې بدلون راغی، په ملګرو ملتونو کې يې د افغانستان دايمي استازولۍ ته لا ډېر اهميت ورکړ.

د یمن په جګړه کې د افغانانو جنګېدل؛

# نیویارک ټایمز ویلي، په یمن کې زرګونه کم عمره افغانان جګړه کوي



په یمن کې د سعودي عربستان په مشرۍ د سیمې او خلیج د همکارۍ شورا هېوادونو د ائتلاف په اړه د نیویارک ټایمز د رپوټ تر خپرولو وروسته، هلته د جګړې په موخه د انتقال شویو افغانانو په اړه هم اندېښنې راپورته شوې دي.

نیویارک ټایمز په خپل وروستي رپوټ کې ویلي، سعودي عربستان او د یمن جګړې ائتلافي ځواکونو د سوډان له دارفور سیمې شاوخوا ۱۴ زره هغه کسان د یمن د جګړې لیکو ته لېږلي چې د دارفور له جګړې وروسته هلته بې برخلیکه پاتې وو.

رپوټ وایي، په دغو جنګیالیو کې تر شل سلنه ډېر له ۱۴ نه تر ۱۷ کلونو پورې عمرونه لري او نوي جنګیالي ته د میاشتې ۴۸۰ ډالره او تجربه کارو جنګیالیو ته ۵۳۰ ډالره ور کوي.

د یمن او سوریې جګړو ته د سعودي عربستان په مشرۍ ائتلاف او د هغوی مخالف اړخ ایران له افغانستان او پاکستانه هم په زرګونو افغانان جذب کړي او د اسلام اباد او تهران له لارې یې یمن او سوریې ته لېږلي دي.

د چارو شنونکي وایي، په دغو انتقال شویو افغانانو کې ډېری یې کم عمره تنکي ځوانان دي چې یوه برخه یې په یمن کې د سعودي عربستان په مشرۍ ائتلاف په ګټه جنګېږي او یوه بله برخه یې د فاطمیون ډلې په چوکاټ کې د ایران په ګټه جګړه کوي.

د سیاسي چارو شنونکی ستار پردلي وایي: «د سعودي عربستان او ایران ترمنځ د لیډرشیف لپاره جګړه روانه ده او دوی په یمن او سوریه کې د یو او بل پر وړاندې درېدلي دي او په دغو جګړو کې افغانان، سوډانیان او پاکستانیان استخداموي او هر یو یې کوښښ کوي چې برلاسي شي او د دوی برلاسي د افغانانو د تباهۍ لپاره ده».

له یمن او سوریې نه د افغان جنګیالیو د را ستنېدو په اړه هم داسې اندېښنې دي چې ښایي دغه جنګیالي د ایران او سعودي عربستان او د هغوی د متحدانو جګړې افغانستان ته را انتقال کړي او د جګړې جغرافیه تغیر وومي.

پردلي وایي: «دوی همدا اوس د بلې جګړې لپاره سرمایه ګزاري کوي، ځو خپلې ګټې خوندي کړي او دا د ټولو افغانانو لپاره د اندېښنې وړ دي».

په یمن او سوریه کې د افغان جنګیالیو د برخلیک په تړاو دا اندېښنې داسې مهال دي چې سعودي عربستان او امارت د پخوا په پرتله په افغانستان کې زیات فعال شوي او ایران هم له طالبانو او نورو ډلو سره خپلې اړیکې زیاتې کړې دي.

## ولسي جرګې د ۱۳۹۸ لمریز کال مالي بودجه تصویب کړه



ولسي جرګې د ۱۳۹۸ لمریز کال لپاره مالي بودجه چې شمېر یې څه باندې ۳۹۹ میلیاردو افغانیو ته رسېږي، تصویب کړه.

د دې جرګې غړو د دوشنبې په ورځ په دې اړه له بحث کولو وروسته د رایو په اکثریت دغه بودجه تصویب کړه.

د جرګې رییس عبدالروف ابراهیمي په دې اړه وویل: «د ۱۳۹۸ لمریز کال مالي بودجه د رایو په اکثریت تصویب شوه».

د دې بودجې ۲۷۵ میلیارده یې عادي او ۱۲۴ میلیارده یې پراختیایي ده. له دې ډلې ۶۱ میلیارده افغانۍ اختیاري او ۶۳ میلیارده یې غیر اختیاري ده چې د مالیې وزارت په حواله، د مرستندویو بنسټونو له خوا ورکول کېږي.

همدا شان ښه حکومتولي، اقتصادي وده او د زېربناوو پراختیا هغه پروګرامونه دي چې په بودجه کې ورته لومړیتوب ورکړل شوی دی.

د یادې بودجې ۴۱ سلنه امنیتي برخې، ۱۴ سلنه پوهنې، ۱۳ سلنه کرنې او مالدارۍ او ۹ سلنه د کلیو پراختیا ته ځانګړې شوې ده.

د مالي کلونو د بودجې تاییدول او ردول، هر کال د حکومت او ملي شورا ترمنځ یوه لانجمنه مسئله وي، خو له دې وړاندې د مالیې وزیر د بودجې د ژر تصویب هیله ښودلې وه او ویلي یې وو چې دغه بودجه له نړیوالو معیارونو سره سمه ترتیب شوې او هڅه شوې چې د ولایتونو د پراختیایي پروژو انډول پکې وساتل شي.

له دې وړاندې ځینو سرچینو ازادي راډیو ته ویلي وو، چې یو شمېر وکیلان د ټاکنو د لومړنیو پایلو په غبرګون کې نه غواړي چې د بودجې سند تصویب کړي، خو د ولسي جرګې د دوشنبې ورځې په غونډه کې داسې څه حس نه شول، خو بیا هم ځینو وکیلانو په بودجه کې په ناانډولۍ او بې عدالتۍ نیوکې وکړې.

دوی وویل چې د ځینو ولایتونو په پرتله ځینو نورو هغو ته زیاته پاملرنه شوې، چې دا ښکاره بې عدالتي ده.

د یادې جرګې غړي عبیدالله بارکزي وویل: «متوازن انکشاف د افغانستان د ټولو خلکو حق دی. باید ټولو ولایتونو ته یو ډول بودجه ورکړل شي، نه دا چې یو ولایت ته ۵۰ او بل ته درې پروژې ورکول کېږي. دا د مور او میرې سلوک او په هېڅ صورت دغسې بودجه موږ ته د منلو نه ده.»

په همدې حال کې د اقتصادي چارو افغان کارپوهان د بودجې له تصویبه هرکلی کوي او وایي چې په خپل وخت د بودجې تصویب د یو هېواد د پرمختګ لامل ګرځي.

## د اماراتو له ناستې وروسته طالبانو تهران ته دویم سفر کړی

د افغان سولې په اړه د اماراتو له ناستې وروسته د طالبانو د قطر دفتر پلاوي دویم ځل تهران ته سفر کړی او له ایراني چارواکو سره یې لیدلي دي.

دا په داسې حال کې ده چې دوې اونۍ مخکې په متحده عربي اماراتو کې د امریکا او طالبانو ترمنځ، د افغان سولې په اړه مخامخ خبرې وشوې چې د سعودي، اماراتو او پاکستان استازو هم پکې ګډون کړی و.

د ایران د ملي امنیت شورا ویاند څو ورځې مخکې ویلي وو چې د اماراتو له ناستې وروسته، د طالبانو د قطر دفتر پلاوي تهران ته سفر وکړ او د اماراتو د ناستو په اړه یې، له دوی سره معلومات شریک کړل.

اوس د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند بهرام قاسمي وایي، د طالبانو پلاوي وړمه ورځ یو ځل بیا تهران ته سفر کړی او پر افغان سولې یې له دوی سره خبرې کړې دي.

بهرام قاسمي په تهران کې خبري غونډې ته وویل، کابل ته د ایران د ملي امنیت شورا د پلاوي له سفر وروسته، وړمه ورځ د طالبانو پلاوی تهران ته ورغلی و.

هغه زیاته کړې چې طالب پلاوي له ایراني چارواکو سره پر افغان سوله او نورو موضوعاتو تفصیلي خبرې کړې دي.

قاسمي وایي، د طالب پلاوي له دغو سفرونو سره یې افغان حکومت په جریان کې کړی و او دا سفرونه له هغوی سره په همغږۍ ترسره شوي دي.

د هغه په وینا، له دغو سفرونو موخه د افغان دولت او طالبانو ترمنځ مخاخ خبرو ته زمینه برابرول وو.

نوموړي زیاتوي: «په سیمه کې د یوه مهم هېواد او ګاونډي په توګه ایران غواړي چې د سولې په پروسه کې خپل رول ترسره کړي».

هغه ویلي، ایران یوازینی هېواد نه دی چې له طالبانو سره خبرې کوي، بلکې د امریکا په ګډون ځینې نور هېوادونه هم دغه کار کوي.



په ورته وخت کې د بهرنیو چارو وزارت ویاند صبغت الله احمدي ایران ته د طالبانو د سفر په اړه د نظر له څرګندولو ډډه وکړه، خو وایي، هغه څه چې د سولې خبرې یوې پایلې ته رسوي، هغه د افغانستان له حکومت سره د طالبانو مخامخ خبرې دي.

ټاکل شوې چې د افغان سولې په اړه بله مهمه ناسته په راتلونکو دوو اونیو کې په سعودي کې ترسره شي.

## د ژورنالېستانو نړیوال فدراسیون: له ۲۰۰٦ ز کال وروسته ۲۰۱۸ ز کال د خبریالانو لپاره تر ټولو خونړی و

د ژورنالېستانو نړیوال فدراسیون وایي، په ۲۰۱۸ ز کال کې د خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو تلفات ډېر زیات وو.

دغه فدراسیون په خپل کلني راپور کې چې وړمه ورځ خپور شو، ویلي چې په ۲۰۱۸ ز کال کې خبریالانو ته تر ټولو زیاته مرګ ژوبله په افغانستان کې اوښتې ده.

په راپور کې ویل شوي، په ۲۰۱۸ ز کال کې په هدفي وژنو، بمي چاودنو او جګړو کې ۹۴ ژورنالېستان او د رسنیو کارکوونکي وژل شوي دي.

د ژورنالېستانو نړیوال فدراسیون چې مرکز یې په بروکسل کې دی، په خپل راپور کې ویلي، په ۲۰۱۷ ز کال کې په نړۍ کې د وژل شویو خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو شمېر ۸۲ و.

په دغه راپور کې د افغانستان د وژل شویو خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو شمېر تر ټولو ډېر یاد شوی چې شمېر یې ۱٦ ته رسېږي.

دغه فدراسیون چې په ۱۹۹۰ ز کال کې تاسیس شوی، له هغه وخته یې د خبریالانو د مرګ ژوبلې تر ټولو ډېر شمېر په ۲۰۰٦ ز کال کې ثبت کړی چې د ۱۵۵ کسانو وژل پکې ثبت شوي وو.

په ۲۰۱۸ ز کال کې له افغانستان وروسته د مکسیکو نوم یاد شوی چې ۱۱ تنه او بیا له هغې وروسته سوریه ده چې اته خبریالان او د رسنیو کارکوونکي پکې وژل شوي دي.

د امریکا متحده ایالتونه د دغه لېست په شپږمه درجه کې دي چې د وژل شویو خبریالانو شمېر یې پنځو ته رسېږي. پاکستان او سومالیا هم په ورته حالت کې دي.

د خبریالانو د نړیوال فدراسیون په دغه راپور کې تر ټولو کړکېچنه قضیه، د سعودي عربستان د خبریال جمال خاشقجي وژنه یاده شوې ده.

نوموړي خبریال واشنګټن پوسټ ورځپاڼې سره کار کاوه او د سعودي د ولیعهد محمد بن سلمان سخت منتقد و چې د تېرې اکتوبر په دویمه د ترکیې په استانبول ښار کې د سعودي عربستان په کونسلګرۍ کې ووژل شو.



د خبریالانو د نړیوال فدراسیون مشر فیلیپ لیروټ اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس ته ویلي، خبریالان له دې کبله په نښه کېږي، چې هغوی د پېښو شاهدان دي. دا کار په تېره بیا په هغو ځایونو کې ډېر رامنځته کېږي چې هلته خود سانسوري ډېره وي.

د دغه فدراسیون مشر وایي، تر ټولو حیرانوونکې خبره دا ده چې له هرو ۱۰ خبریالانو څخه د ۹ تنو د وژلو قضیه یې بې مجازاتو پاتې شوې ده.

بلخوا د خبریالانو د خوندیتوب کمېټې ویلي، په روان میلادي کال کې د وژل شویو خبریالانو نیمایي برخه یې په قصدي ډول په نښه شوې ده.

## د کتـــاب خبـــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډیوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـر احمد یـاد

**لومړۍ څپرکی**
**پر خپل ځان باور ولرئ:**




بله دا چې زما د ښوونځي د وخت ځو ملګري وو، هغه وخت یې په جګر کې (الف) نه و، ان پوهنتون ته هم نه وو بریالي شوي، اوس یې ځانته خپل کاروبار جوړ کړی او پکې بریالي دي. زه لږ خواري ځاري کوم او کار مې د بحري مالونو (کارګو) کنټرول دی. که مې د بریا د علتونو په ارزونې فکر متمرکز کړی وی، نن به مې ژوند او حالت ډېر ښه وی.)

کوم فکر چې د ده هوښیارتیا ته لوری ورکاوه، هغه تر هوښیارتیا ډېر مهم و.

ولې ځینې نابغه ګان نه بریالي کېږي؟ یو کس د نبوغ تر حده تکړه او ما ورسره کلونه کلونه نږدې اړیکې لرلې. دې سړي فوق العاده تجریدي ځیرکتیا درلوده او د امریکا د ځیرکو محصلینو د ټولنې غړی دی. خو له دې دومره هوښ او ځیرکتیا سره بیا هم زما په پېژندګلوۍ کې تر ټولو ناکام انسان دی. د دې سړي دنده ډېره عادي ده او له مسئولیت اخیستو سخت وېرېږي. واده نه کوي، ځکه وایي کیسه یې طلاق ته وځي. ملګري نه لري، ځکه څوک یې نه شي زغملای. په هېڅ کار کې پانګونه نه کوي، ځکه وېرېږي چې پیسې و نه بایلي. دا سړی تېز او قوي ذهن لري، خو د دې پر ځای چې د بریا لارې پرې ولټوي، لګیا دی په همدې تېز او تېره ذهن د خپلو مفکورو او کارونو د ماتې او ناکامېدو دلایل تراشي.

دې منفي فکر یې د پریمانه پوهې او وړتیا سرچینه پټه کړې وه. دی په لږو کارونو کې برخه اخلي او عمومي بې خیر و بې برکته انسان دی. دی کولای شي چې د خپل فکر او لیدلوري په بدلولو لوی کارونه وکړي. ماغزه یې دا وړتیا لري چې بې ساری پرمختګ وکړي، خو له بده مرغه د ده د فکر قوت هېڅ ګټه او ثمره نه لري.

یو بل ملګري مې چې څنګه د نیویارک له معتبر پوهنتون نه د دوکتورا سند واخیست، دستي پوځ ته جذب شو. ښایي تاسې پوښتنه وکړئ چې دا درې کاله یې په پوځ کې څه کول؟ هلته یې ځانته د افسر موقف هم پیدا نه کړ، دا درې کاله یې موټروانې کوله. د خپلو هم رتبه پوځیانو په پرتله یې ذهن منفي و، ویل به یې دوی (دوی خو بیخي انسانان نه دي.) پوځي لارې چارې او میتودونه به یې احمقانه بلل. د اصولو او مقرراتو په اړه به یې ویل چې دا ماته نه، نورو خلکو ته دي. د بل هر څه په اړه به یې ځانته ویل: (عجیبه کم عقل انسان یم چې تراوسه مې له دې ځایه د تېښتې لاره پیدا نه کړه.)

دې سړي د هېڅ یوه انسان په زړه کې ځای او درناوی پیدا نه کړ. د پوهې ټوله خزانه یې په ذهن کې خښه وساتله او منفي لیدلوري ترې بې ګټې شی جوړ کړ.

دا یاد ساتئ، ستاسې ذهنیت ستاسې هوښیارتیا ته لوری ورکوي او دا ذهنیت تر هوښیارتیا ډېر مهم دی. که چا له پوهنتونه د هر څومره لوړې درجې سند اخیستی وي، په بریا کې د دې اصل له ارزښته سترګې نه شي پټولای.

څو کاله مخکې په یوه تبلیغاتي شرکت کې د جیم ف. په نوم له لوړپوړي چارواکي سره بلد شوم. په شرکت کې د جیم دنده په بازار موندنه کې د څېړنې مدیریت و او ګټورتیا (مثمریت) یې ډېره لوړه وه.

آیا جیم متفکر و؟ نه، په هېڅ صورت نه و. جیم د څېړنې د میتود په اړه په پنځو شیانو هم نه پوهېده، نه یې احصایه زده وه، نه یې لوړې زده کړې کړې وې، خو د ده تر لاس لاندې چې چا کار کاوه، ټول له پوهنتونه فارغ وو، جالبه دا ده، چې جیم داسې هم نه ویل چې د څېړنې پر مسلکي اړخونو ګني پوهېږي.

نو بیا به یې د کوم بل دلیل په اساس د کال نږدې پنځه دېرش زره ډالر عاید درلود او د ده تر لاس لاندې خلکو چې پوهنتونونه یې لوستي وو، په کال کې یې لس زره ډالر عاید هم نه درلود.

د ده د کار طریقه داسې وه. جیم انساني مهندس او سل په سلو کې مثبت و. د ده کارکوونکي به چې لږ بې روحیې شول، ده روحیه ورکولای شوه. دا ډېر له شور شوقه ډک انسان و او دا شوق یې نورو ته هم لېږلای شوی. ده خلک درک کول او په هغوی کې یې د نارامۍ او خپګان لامل پیدا کولای شوی، جیم له خلکو سره د زړه له تله مینه کوله.

جیم په شرکت کې له ډېرو هوښیارو خلکو زیات درناوی درلود او د درناوي لامل یې هوښ نه، بلکې هغه طریقه وه چې ده پرې له هوښه کار اخیست.

په پوهنتون کې چې هر سل تنه نوم لیکنه کوي، پنځوس ترې بریالي فارغېږي، زما سودا شوه او د یوه لوی پوهنتون د داخلې له مدیره مې د علت پوښتنه وکړه.

هغه راته وویل: (د دې خبرې لامل د خلکو ټیټ هوښ یا لږه ځیرکتیا نه ده، ځکه څوک چې لازمه وړتیا و نه لري، موږ داخله هم نه ورکوو. لامل یې غربت هم نه دی، ځکه نن سبا هر څوک د خپل پوهنتون لګښتونه خلاصولای شي. اصلي علت ذهنیت او لیدلوری دی. که تاسې پوه شئ چې څومره شاګردان له خپلو استادانو، درسونو او ټولګیوالو سره د نه علاقې له امله درس پرېږدي، نو حیران به شئ.)

منفي ذهنیت او لیدلوری په ادارو کې هم نویو کارکوونکو ته د لوړ مدیریت دروازې تړي. تریخ، منفي، بدبینه او خپه کوونکی ذهنیت په کارکوونکو کې د لږې هوښیارتیا په پرتله د وروسته پاتې کېدو لوی لامل دی. یوه اجرائیوي رئیس راته وویل: (لږ څله به موږ کوم ځوان د لږې هوښیارتیا، پوهې او ځیرکتیا له امله رد کړی وي، ګني نور همدې لیدلورو او ذهنیتونو ته ګورو.)

یو وخت راته د بېمې یوه شرکت غوښتنه وکړه چې زه ورته په دې اړه څېړنه وکړم: ولې پنځه اویا سلنه بېمې د پنځه ویشت سلنه پلورونکو په لاس پلورل کېږي او پاتې پنځه ویشت سلنه بېمې بیا پنځه اویا سلنه پلورونکو ته پاتې وي؟

**دوام لري...**

# امانویل کانت

حکمت ارین



امانویل کانټ د المان په کونیګریسبرګ ښار کې زیږېدلی. پلار یې الماني نژاد، خو مور یې تلیزیت نژاده وه. نوموړی په یوه غریبه، خو مذهبي کورنۍ کې دنیا ته راغلی و. پلار یې د آس زین جوړوونکی و. لکه څنګه چې نوموړی په یوه لویه مذهبي کورنۍ کې زیږېدلی و، نو د کورنۍ افکارو یې هم پر فلسفه او افکارو اغېز کړی دی. پلار یې نهه اولادونه درلودل چې دی یې څلورم زوی و. د نوموړي پلار هڅه کوله څو خپل اولادونه ښه وروزي. کانت اته کلن و چې یوې مدرسې ته یې بوتلو او خپل ملګري کشیش ته یې مسوولیت وسپاره، څو نوموړی سم وروزي.

که څه هم هغه په ماشومتوب او ځوانۍ کې ډېرې سختۍ ولیدلې، خو ده دا سختۍ ټولې پر یوې محرکه قوې بدلې کړې او د ځان په ګټه یې مثبته ګټه ترې پورته کړه. ستونزو دی وځاپه، خو مات یې نه کړ. له وخت سره یې ضد ونه کړ، بلکې ځان یې ورته منظم کړ، په ځان کې یې تحرک راوست او فکري بلوغ یې ترې واخیست، پوخ شو او په خندا یې د ژوند هرې ښې او بدې ته ښه راغلاست ووایه، ځکه ورته خلک د نړۍ تر ټولو بریالی کس وایي.

امانویل د خپلې روزنې په برخه کې خپل والدین پړه نه بولي او نه یې هم ویلي چې پلار یې ورته څه نه دي کړي. دی وایي، هغه یې د ژوند تر ټولو خواږه وختونه وو چې ده د خپلې کورنۍ په څنګ کې تېر کړل، که څه هم د ده په خبره له نورو اړخونو ښه نه و؛ خو وایي، پلار او مور به یې د ده پر وړاندې له یو بل سره داسې چلند کاوه چې ګني دوی په ژوند کې هېڅ ستونزه نه ده لیدلې.

امانویل د خپلو والدینو په اړه په خپل یوه کتاب کې لیکلي: «والدین مې خورا امانتکار او پرهېزګاره انسانان وو، د هغوی له برکته زه هست شوم، هغوی زما د پیدایښت په ورځ خندل، خو ما یې قدر هغه وخت ولید چې کله مې یې پر جنازه سترګې ولګېدلې.» دی وایي، مور به مې هېڅکله هېره نه کړم، هغه لومړنۍ څوک وه چې په ما کې یې د نیکۍ تخم وکاره او هغه یې رالوی کړ. هغې زه له سختو مرحلو تېر کړم، په ځان یې سختې شپې تېرې کړې، خو زه یې رښا ته راوستم . هغې په ما کې د یو قوي وجدان ترڅنګ یو ژور فکر وروزه. زما د هرڅه شریکه زما مور ده، هغه وه چې زه یم.

امانویل کانت نه خوښول چې څوک یې په شخصي ژوند کې کار ولري. تر ټولو لویه او اصلي دنده یې دا وه چې په عالم تفکر کې واوسي. هغه فوق العاده بوخت او پرکاره ژوند درلود، خو ډېر منظم او دقیق. د کانت روزمره ژوند د مثال په توګه یادېږي، هغه به د ورځې څو کیلومتره پیاده مزل کاوه او هڅه به یې کوله، څو له خپل دغه کاره دوې ګټې پورته کړي. یو خو به یې ورزش کاوه او بل په خپلو فکرونو کې غرق و.

هغه به په همدې پیاده تللو کې ورځني کارونه تنظیمول او بیا به یې هڅه کوله چې د ورځې په جریان کې ټولو هغو ته رسیده‌ګي وکړي. امانویل وایي: «وخت تر ټولو ارزښتناک شی دی، هغه ډېر ناځوانه هم دی، نه درسره پاتې کېږي او نه دې پرېږدي چې ته یې مدیریت کړې، بلکې باید له وخت سره خپل ځان مدیریت کړې او وکولی شې چې د وخت مطابق خپل کارونه تنظیم کړې، نه دا چې وخت له ځان سره تنظیم کړې، ځکه وخت تېرېدونکی دی، تاته نه درېږي، نو مجبوراً باید ځان ورسره مدیریت کړل شي.

نوموړي ته یوه نږدې کس فون هیپل په خپل یو کتاب کې د کانت د نظم په اړه لیکلي، هغه به خپل خدمتګار لامپ ته ویل چې باید د سهار تر لمر ختو مخکې یې راپورته کړي، څو دی د شپې خوب ته ادامه ورنه کړي او خپله ورځ د شپې غوندې تیاره تېره نه کړي. کانت به چې کله هم خپلې کوټې ته لاړ، نو پر خپل اشپز به یې غږ وکړ، درې ربعه یو دي. له ډوډۍ وروسته به بیا د خپل مېز شاته کېناست او بیا به د کار په وخت کې بېځایه خبره هم ورباندې بده لګېده.

کانت په کاري وخت کې یوازې یو شي ته ثابت وخت ټاکلی و چې هغه به یې نه قضا کاوه چې هغه مطالعه وه. ده به په دې وخت کې یوازې دوه شیان مطالعه کول، یو امیل روسو او بل هم د فرانسې انقلاب.

کانت وایي، وسواس او په چټې مسایلو ځان بوختول، د وخت ضایع ده، ځکه ټول پوهېږو چې وخت نه راګرځي او نه پرون نن کېدلی شي، نو ښه ده چې پر مخ لاړ شو او د نن فرصت چې لرو یې، د سبا لپاره هم نه، بلکې د نن لپاره ښه تېر کړو، ځکه سبا کېدای شي تر نن ډېر ښه کارونه وکړو. هغه وایي، دا فکر دی چې کولی شي موږ ته ژوند راوښیي او موږ ته دا وښیي چې ژوند څنګه باید وشي. نوموړی چې پر تن وچ او ظاهراً داسې ښکارېده چې ناروغ او ضعیف دی، خو ده به ویل، ژوند په دې نه ارزي چې د ځان په جوړولو یې تېر کړو، بلکې ژوند هغه وخت ارزښت پیدا کوي چې موږ دننه جوړ واوسو.

هغه د خپل ډېر ژوند د لامل په اړه وایي: «ژوند له ټولو خطرونو او ټولو بدمرغیو سره سره یوه ښه ډالۍ هم ده چې باید له ټولو ضربو یې په امان وساتو. منظم او تر ټولو ښه ژوند هغه دی چې ته یې خپله مدیریت وکړې او ټولو ستونزو ته یې په سړه سینه هرکلی ووایې، نه دا چې تا ګډوډ کړي. باید زده کړه ترې وکړې، بد یې بیا تکرار نه کړې او ښه یې د وجدان د ارامولو لپاره بیا بیا یاد کړې.»

کانت یو بل عجیب عادت هم درلود. هغه د نورو په څېر زاهدانه او وچ ژوند نه خوښاوه، تل به یې پر دسترخوان څو کسه مېلمانه وو. خو دا کار یې هم بې نظمه نه و، تل به یې د مېلمنو شمېر تر دریو پورته نه و.

امانویل به ویل، یوازې ډوډۍ خوړل دا زیان لري چې ته په خپلو فکرونو کې ډوبېږې او کله چې دې معده په حرکت راځي، نو ستا د تفکر پر وخت د مغزو قوت معده ځان ته اخلي او یا هم برعکس دا مغزو ته زیان رسوي.

نوموړي د خپلې مجردۍ په اړه ویلي، زه خوشبخت نه وم، خو که مې عمر ته وګورم، نو بې له شکه چې زه خوشبخت ترین انسان یم، ځکه مجردان تر نورو هغو ډېر عمر کوي. نوموړي ته نږدې کسان وایي، کانت دوه ځلې د واده کولو هڅه وکړه، خو دواړه ځله یې د دې خبرې له ویلو وروسته خپله پرېکړه بدله کړه:«کله چې مې ښځې ته اړتیا درلوده، نه مې شوای کولی تر عهده یې ووځم، خو کله مې چې وس پیدا کړ، اړتیا یې نه وه».

کانت د زده کړو په وخت کې له ډېرو لوړو ژورو سره مخ و. ټولې زده کړې یې په ډېرې سختۍ بشپړې کړې، هغه د کتابونو اخیستلو لپاره پیسې نه درلودې او نه یې هم د خپلو زده کړو تر پایه ښکلې او قېمتي جامې واغوستې.

خو دا هر څه یې د تقدیر پرېکړې بللې او تل به یې له ځان سره پر دې فکر کاوه چې څنګه باید له ټولو ناخوالو سره مبارزه وکړي. فارغ شو او له فارغېدو سره سم په یوه ښوونځي کې د استاد په توګه په دنده وګومارل شو.

له څو کلنې استادۍ وروسته د المان په دولتي پوهنتون کې د فلسفې استاد شو. دې دندې یې په ژوند کې ژور بدلونونه راوستل، اقتصاد یې ښه شو، نو یې په سړه سینه د تاریخ او فلسفې په برخه کې تحقیق او څېړنې ته ډېر وخت پیدا کړ، ځکه ډوډۍ یې پیدا کړه او دغه منظم شخص وکولی شوی هرڅه په سمه توګه پر مخ یوسي.

له فلسفې سره سره نوموړي په همدغه پوهنتون کې ډېرې نور موضوعات، لکه: فزیک، ریاضي، تئولوژي، ستوري پېژندنه او انسان پېژندنه هم تدریسوله.

الماني فیلسوف هردر هغه څوک و چې نوموړي ته د فن بیان په کورسونو کې ناست و. دی کانت یو له هغو اشخاصو څخه بولي چې پر باور یې هغه یوازې یو استاد نه، بلکې یو مکتب و، یو فکر و او یو بشپړ پوهنتون و. نوموړي د خپلو خاطراتو په کتابچه کې د کانت په اړه لیکلي: «هغه په تېر عمر کې هم د ځوانانو غوندې تازه والی درلود، هغه ډېر خوش اخلاق او نېک انسان و، هغه د ارامښت او مینې یوه بېلګه وه، له خولې یې خبرې نه، بلکې ګلونه بادېدل. د هغه ټولې خبرې درسونه وو چې باید یاداښت یې اخیستل شوی وای. ډېر نقطه چین او سنجیده غږېده، په ټوله کې ویلی شو چې هغه یو بشپړ پوهنتون و.»

کانت له لنډې مودې ناروغۍ وروسته د ۱۸۰۴میلادي کال د فبرورۍ په ۱۲مه له نړۍ سره مخه ښه وکړه. کله چې خاورو ته سپارل کېده، د المان له ټولو ښارونو ورته په لکونو کسان راغلل، څو د دې فلسفي استاد او عالم روح ته خوښي وبښي. هغه ته د هغه په ژوند هم ډېرو خلکو قدر او احترام درلود.

د نوموړي له مرګ وروسته یې دریو تنو شاګردانو او مریدانو بوروسکي، جاشمن او وازیانسکي د هغه شخصیت معرفي کاوه. دوی د نوموړي اقوال له ځان سره راوړي وو چې دې مسئلې د کانت په اړه پوهه لا پراخه او هغه یې د نړۍ په کچه د غوره فیلسوفانو په لیکه کې ودراوه.

کتابونه یې چاپ شول، هغه د فلسفې، تاریخ، فزیک، ریاضي او نورو برخو کې خورا ډېر کتابونه چاپ کړل، خو فلسفې یې پر نورو هغو سیورې وغوړاوه او داسې فلسفه یې خلکو ته وړاندې کړه، چې خلک ورته ګوته په غاښ پاتې شول او تر اوسه یې نوم د خلکو پر ژبه دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۳۰ |
| € | ۸۵,۷۰ |
| Rp. | ۵۳۸ |
| ₹ | ۱۰۷۵ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۵,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوتوال
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# له خپل کار او مسلک سره مو مینه پیدا کړئ

ژباړه: محمد عزیز پردېس

ډېری خلک له خپل مسلک څخه ناخوښ وي. مختلف دلایل دي چې خلک له خپل مسلک سره بې مینې وي او هر مازدیگر له یو عالم سټرېس او فشار سره کورونو ته درومي. سټرېس او فشار د دې لامل گرځي چې انسان بې حوصلې او بدخلقه شي او له کورنۍ سره یې تل په هره خبره جنجال وي.

په اوسني وخت کې د دندې پیدا کول تر ټولو ستونزمن کار دی چې ډېری ځوانان ورسره لاس او گریوان دي. یو لامل دا هم دی چې ډېری خلک په هغه کار کې بوخت دي چې اصلاً ورسره مینه نه لري. حقیقت دا دی چې د بېکارۍ او بېوزلۍ په پرتله ډېری خلک دا غوره گڼي څو هغه کار ته زړه ښه کړي چې په هېڅ ډول یې نه خوښېږي.

ځینې کسان د بې صبرۍ او بې قرارۍ په خاطر له خپل کار څخه رضایت نه لري. هغوی د دې لپاره چې په کاري ځای کې یې ډېر تحرک نشته، له خپل مسلک څخه ستړي کېږي.

البته د دغو ستونزو د حل لپاره ځینې لارښوونې او لارې شته چې د هغو په مرسته کولی شی، خپل کار، مسلک او کاري چاپېریال سره مو مینه او علاقه ډېره کړی. په دې مقاله کې دغو لارښوونو ته په لنډه توگه اشاره کوو:

**۱- تل د کار مثبت اړخونو ته وگورئ**



مور ډېری کسان عادت لرو چې تل په منفي اړخونو پسې گرځو. یو وړوکی استراحت او یو لنډ سفر کولی شي چې تاسو ته دا فرصت درکړي، څو د کاري مسایلو په اړه ښه فکر وکړی. باید د خپل کار پر وړاندې خپل کړه وړه او چلند تر غور لاندې ونیسئ. کله ناکله سټرېس کولی شي چې د دې مخه ونیسي څو ټول اړخونه په ښه ډول وسنجوی.

له ټولو ځیزونو سره مثبت چلند، ستاسو ژوند خوږ او په زړه پورې کوي. هڅه وکړئ چې تل راتلونکي ته هیله من او خوش بینه و اوسی.

**۲- له همکارانو سره مو صمیمي او رښتیني اړیکې رامنځته کړئ**

دا چې له خپل کار سره بې مینې شوی یاست، یو دلیل یې دا هم کېدای شي چې له همکارانو سره مو ښې اړیکې نه لرۍ. ډېری خلک هڅه کوي چې په کاري چاپېریال کې جدي و اوسي، ځکه کمال لرونکي وي، خو خبر نه وي چې دا مسئله د دې لامل گرځي چې یوازې پاتې شي او ټول ترې واټن واخلي.

که غواړئ په خپل کار کې د ډېرې مودې لپاره پاتې شی، کېدای شي د دې پاتې کېدو یو دلیل همکاران و اوسي. تاسو هغه وخت کولی شی چې له خپل کار سره مینه ولرئ چې له همکارانو سره مو اړیکې ښې وي.

**۳- له لوړ رتبه همکارانو سره مو خبرې وکړئ**

کله مو چې یوازینۍ موخه دا وي چې ترفیع وکړی، نو له کار سره به مو مینه او علاقه کمه وي. که غواړی د اداري د ځینو سیاستونو په اړه لا پوه شی، باید وکولی شی چې له لوړ رتبه همکارانو سره مو خبرې وکړی او هغوی د خپلو نظریاتو په هکله خبر کړی. دا د کاري اوضاع د چټک بدلون او ښه والي لپاره غوره گام دی.

**۴- که دا کار مو نه لرلی، څه مو کول؟**

کله مو چې له کاري چاپیریال سره مینه کمېږي، نو یوه غوره پوښتنه چې له ځان څخه یې وکړی، دا ده چې که دلته مو کار نه کولی، نو څه به شوي وای؟ خلک معمولاً دا فکر کوي چې که دا کار یې نه لرلی، حتماً به یې بل ځای کې بوختیا لرله، خو واقعیت باید ومنئ. باید ومنئ چې همدا مو کار دی او که دا کار مو نه لرلی، ښایي بېکاره وی.

**۵- د اداري په نورو فعالیتونو کې فعاله ونډه واخلئ**

د اداري د په زړه پورې پېښو او کارونو لپاره داوطلبانه و اوسئ. د همکارانو لپاره د یوې مېلمستیا برابرول کولی شي چې ستاسو کاري سټرېس له منځه یوسي او هم مو له کار سره مینه زیاته کړي.

**۶- کاري چاپېریال مو ښکلی کړئ**

د کاري ځای د ښکلا لپاره مو له مختلفو تزئیني توکو څخه گټه واخلئ. د کاري ځای ښکلا مو کار ته هڅوي. تاسو کولی شی په کاري ځای کې د کورنۍ غړو انځورنه کېږدی، څو داسې فکر وکړی چې تاسو یوازې د ځان لپاره کار نه کوی.

خوښي او نېکمرغي ستاسو په لید او درک پورې اړه لري. له کار او کاري چاپېریال سره مینه ستاسو په چلند پورې تړاو لري. مثبت فکر او مثبت عمل وکړئ او خوشحاله ژوند وکړئ.

## حقوقپوهان: د ملي یووالي حکومت نوي سلنه اساسي قانون نقض کړی دی

ځینې حقوقپوهان او مدني فعالان وایي، د ملي یووالي حکومت نوي سلنه اساسي قانون نقض کړی دی.

د پوهنتون استاد او حقوقپوه اسدالله الواجي د دوشنبې په ورځ د مدني فعالانو د ټولنې له خوا د اساسي قانون د نمانځنې د اونۍ په مناسبت، په غونډه کې وویل، د ملي یووالي حکومت په دوران کې د اساسي قانون نوي سلنه مواد نقض شوي دي.

له دې سره د یادې غونډې نورو گډونوالو چې ډېری یې حقوقپوهان وو، نیوکه وکړه چې د ملي شورا د ۱۳۹۷ لمریز کال د لړم له میاشتې وروسته مشروعیت نه لري او ورځ تر بلې د اوسني دغه سیاسي کړکېچ دوام به د حکومت او خلکو تر منځ واټن زیات، پر حکومت به د خلکو بې باوري ډېره او اقتصادي ستونزې به زیاتې کړي.



دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم ځینو سیاسیونو او حقوقپوهانو پر حکومت له دې امله نیوکې کړې وې چې گڼې اساسي قانون یې تر پښو لاندې کړی دی.

د ملي یووالي حکومت پر مهال د اجرایه ریاست جوړېدل، له پنځو کلونو زیات د ملي شورا د غړو د واک دوام او ځینې نور موارد، هغه څه دي چې پر حکومت یې د خلکو او حقوقپوهانو نیوکې زیاتې کړې دي.

تر دې مخکې هم د عامو خلکو او ملي شورا د غړو له لوري په وار وار د اساسي قانون د نقض خبره شوې، سره له دې چې حکومت یې په ځینو مواردو کې دغه نیوکې پر ځای بولي او وایي چې هڅه کوي څو د قانون په چوکاټ کې چلند او قانون ته پاملرنه وکړي.

د مدني فعالانو په یاده غونډه کې حقوقپوهانو دا هم وویل چې حکومت دې ژر تر ژره د ولسي جرگې د ټاکنو پایلې اعلان کړي، ځکه ملي شورا خپل مشروعیت له لاسه ورکړی. دوی دغه راز د ملي شورا پر غړو دې امتیازاتو د بندېدو غوښتنه هم وکړه.

## بنیاد کودک: کارگر ماشومان او کورنۍ یې عاجلو ژمنیو مرستو ته اړتیا لري

په بلخ کې د بنیاد کودک په نوم خیریه بنسټ په دغه ولایت کې د کارگرو ماشومانو او د هغوی د کورنیو د غړو د بد وضعیت په اړه اندېښنه ښیې او وایي چې دا کورنۍ عاجلو ژمنیو مرستو ته اړتیا لري.

دغه بنسټ د ۲۰۱۹ ز کال د را رسېدو په موخه، په بلخ کې د کارگرو ماشومانو ۲۰۰ کورنیو ته د ٦ سوو زرو افغانیو په ارزښت، ژمنۍ مرستې ووېشلې.

د دغه بنسټ مشره مریم کریمي وایي، دا مرستې د خلکو له خوا ورکړل شوې دي او یاد خیریه بنسټ هڅه کوي چې د کارگرو ماشومانو ۲۰۰ نورو کورنیو ته هم، چې اوسمهال پر درندو کارونو بوخت دي، ژمنۍ مرستې برابرې کړي.



نوموړې وویل: «مور د ۲۰۱۹ ز کال د را رسېدلو په هدف، د کارگرو ماشومانو ۲۰۰ کورنیو ته چې پکې بې سرپناه او یتیم ماشومان شامل وو، د ٦ سوه زره افغانیو په ارزښت ژمنۍ مرستې توزیع کړې، البته هرې کورنۍ ته د ۳ زره افغانیو په ارزښت توکي ووېشل شول».

په دغه ولایت کې د کارگرو ماشومانو د کورنیو غړي وایي، د کورنۍ مشران یې په روانو جگړو او ناامنیو کې وژل شوي او اوس د سرپرست د نه درلودلو په خاطر بېړنیو بشري مرستو ته اړتیا لري.

دوی وایي، ماشومان یې د ژوندانه په بد وضعیت کې دي او د خوراکي توکو ترڅنگ، ژمنیو جامو او سونتوکو ته هم اړتیا لري.

د فرزانې په نوم یوې میندې چې ماشومان یې د بېوزلۍ له کبله شاقه کارونه ترسره کوي، وویل: «زه فرزانه یم، دوه ماشومان لرم چې د ژوند په بد وضعیت کې یو. ماشومان مې د سړک پر سر بوټان رنگوي، په ځان کې مې دا جامې هم د بل چا دي، په پور مې اخیستې، په خدای قسم دی چې د اغوستلو جامې هم نه لرو.»

په شمال زون کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون مشر سیدمحمد سامع هم په بلخ کې د کارگرو ماشومانو په شمېر کې زیاتوالی تاییدوي او وایي چې د ناامنیو او بېوزلۍ له امله ورځ تر بلې کورنۍ اړ کېږي چې په وړو ماشومانو شاقه کارونه وکړي.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۱۱مه | د ۲۰۱۹ د جنوري لومړی | دویم کال | ۳۱۰مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | ١٤ | ١٨ | ٩ | ١٧ | ١٣ |
| -٩ | ٠ | ٢ | ٢ | ٤ | -٢ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۰ | لمر ختل ۰۶:۵۹ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیگر ۰۲:۳۵ | ماښام ۰۴:۵۳ | ماخوستن ۰۶:۲۳

## نړۍ



# د ژورنالیستانو نړیوال فدراسیون: له ۲۰۰۶ ز کال وروسته ۲۰۱۸ ز کال د خبریالانو لپاره تر ټولو خونړی و

۳

## عبدالله: کمبود برق در پایتخت یکی از عوامل آلوده‌گی محیط زیست است



در حالی‌که وزیر صحت عامه، وضعیت آلوده‌گی هوای کابل را خیلی نگران کننده نمی‌داند، عبدالله عبدالله رئیس اجرائیه نیز می‌گوید که ذرات معلق در هوای پایتخت دایمی نیستند.

او می‌گوید، اگر این ذرات به طور ۲۴ ساعت به یک میزان باشد، قابل تشویش خواهد بود.

آقای عبدالله که دیروز در نشت شورای وزیران سخن می‌زد، کمبود برق را یکی از عوامل آلوده‌گی محیط زیست در کابل عنوان کرد.

او گفت: «به منظور رفع کمبودی برق در پایتخت در جلسۀ اخیر تدارکات ملی فیصله شد، که ۸۰ میگاوات برق اضافی از استیشن پلچرخی به پایتخت وصل گردد تا به جای ذغال سنگ بیشتر از برق استفاده شود. کمبود برق یکی از عوامل آلوده‌گی محیط زیست است».

وی افزود: «در کمیسیون عالی مبارزه با آلوده‌گی هوا فیصله کردیم که شهرک‌ها از دستگاه‌های تصفیه دود ذغال سنگ استفاده کنند. طبق گزارش اداره ملی محیط زیست نصب این دستگاه‌ها ۵۰ درصد آلوده‌گی ذغال سنگ را کاهش می‌دهد.»

آقای عبدالله در بخش دیگر از سخنانش، در بارۀ آغاز به‌کار سرپرستان تازۀ وزارت‌های دفاع و داخله نیز صحبت کرد. رئیس اجرائیه گفت، امیدوار است تا کارهای سرپرستان تازۀ وزارت های دفاع ملی و امور داخله، در تأمین امنیت کشور اثرگذار واقع شوند.

در همین حال رئیس اجرائیه گفت که کار بازسازی ادارۀ ملی حمایت از افراد دارای معلولیت و وزارت فواید عامه که هفته گذشته آماج یک حمله هراس افگنانه قرار گرفتند، آغاز شدند.

## لاریون کوونکو د ایران د ازاد پوهنتون د چارواکو د استعفا غوښتنه وکړه



د ایران د ازاد پوهنتون محصلینو د لاریونونو پر مهال د دغه پوهنتون د رییس علي اکبر ولایتي د استعفا غوښتنه کړې.

لاریون کوونکي د هغو قربانیانو عکسونه له ځانه سره گرځوي چې د ډسمبر په ۲۵مه د تهران په شمال لوېدیځ کې یې بس له یوه کانکریټي دېوال سره ټکر وکړ او په دې پېښه کې ۱۰ تنه محصلین ووژل شول او ۲۷ نور ټپیان شول.

دغه بس د همدغه پوهنتون د ساینس او تحقیق د څانگې پر لور په غرنۍ سیمه کې روان و چې له سړکه واوښت او یاد شمېر کسانو ته یې مرگ ژوبله واوښته.

د پوهنتون چارواکو په لومړي سر کې بس چلوونکی ملامت کړ، خو وروسته معلومه شوه چې دغه بس ډېر زوړ و او په سمه توگه نه و ساتل شوی.

د ایران د نیمه دولتي خبري اژانس ایسنا د راپور له مخې، تر دې پېښې وروسته د ایران د ازاد پوهنتون یو شمېر د منځني عمر لرونکي چارواکي له دندو لرې شوي او ځینې یې نیول شوي دي.

ایران هغه هېواد دی چې د نړۍ په کچه د ټکر له کبله د تلفاتو شمېر پکې تر ټولو ډېر دی.

راپورونه وايي، پر ایران د امریکا متحده ایالتونو له خوا د نویو بندیزونو په لگولو سره په دغه هېواد کې د عامه ټرانسپورټ د عصري کېدو هڅې پڅې شوې دي.

تر دې وړاندې هم ایران په روان میلادي کال کې د ځینو لویو مظاهرو شاهد و چې وروسته په تاوتریخوالي واوښتې او ډېرو کسانو ته یې مرگ ژوبله واوښته.

اقتصادي ستونزې هغه څه وې چې د کال په نیمایي کې یې په تهران او نورو ښارونو کې د خلکو غوسه را وپاروله او د حکومت ضد شعارونو سره مظاهرې په ټول هېواد کې خورې شوې.

## اسد: عراقي ځواکونه کولای شي په سوریه کې د داعش پر ضد عملیات وکړي



د سوریې ولسمشر بشارالاسد وايي، عراقي ځواکونه کولای شي له دمشق څخه له اجازې پرته د سوریې په خاوره کې د داعش ډلې پر ضد عملیات وکړي.

د سوریې دولتي خبري اژانس دا خبر وروسته تر هغې خپور کړی چې د عراق یوه امنیتي پلاوي په دمشق کې ولسمشر اسد سره وکتل او هغه ته یې وړاندیز وکړ چې له دغه هېواده د امریکایي ځواکونو په وتلو سره عراق چمتو دی په سوریه کې لوی رول ولوبوي.

د عراق صدراعظم عادل عبدالمهدي ویلي، له سوریې څخه د امریکایي سرتېرو تر وتلو وروسته، که په سوریه کې هر منفي تحول راځي، اغېز به یې پر عراق پرېوځي.

نوموړي ویلي، عراق له سوریې سره ۶۰۰ کیلومتره اوږده پوله لري او داعش د دې پولې په اوږدو کې موجود دی.

تر دې مخکې د عراق توپچي ځواکونو له خپلې خاورې څخه د سوریې د حکومت په موافقه په دغه هېواد کې د داعش پر وسله‌والو بریدونه کول.

د یادونې ده چې دوې اونۍ وړاندې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ اعلان وکړ چې په سوریه کې یې داعش ډلې ته ماتې ورکړې او امریکایي سرتېري دې بېرته خپل هېواد ته راستون شي.

## ژوند

## چغندر د سرطان ناروغۍ مخه نیسي




د چغندر خوراک مو له سرطان ناروغۍ څخه ژغوري. دغه بوټی چې د افغانستان په عمده کرنیزو محصولاتو کې راځي، له ښه خوند او رنگ سره سره د روغتیا لپاره هم گټې لري. چغندر د ویټامین A، B1، B2، B3 په درلودو سربېره معدني مواد لکه کلسیم او اوسپنه هم لري.

څېړنو ثابته کړې چې د چغندرو خوړل د زړه د ناروغیو مخه نیسي، کومه چې نن سبا په نړۍ کې تر ټولو خطرناکه ناروغي بلل کېږي. څېړنو ثابته کړې چې د چغندرو خوړل کولی شي د وینې د لوړ فشار مخه ونیسي او ډاکټران یې د یوه ښه او بې ضرره خوراکي توکي په توگه ناروغانو ته توصیه کوي. طبي څېړنو دا هم ثابته کړې چې چغندر د سرطان له ناروغۍ مخنیوی کوي او د دې کورنۍ ټول بوټي لکه، کرفس، کاهو، شاهي، موشک او د چغندر پاڼې کولی شي د وینې د لوړ فشار مخنیوی وکړي. د فېزیولوژۍ استاد اندرو جونز وايي، په چغندرو کې شته نایټریټ په بدن کې په نایټریټ اسیدو بدلېږي چې کولی شي د وینې رگونه پراخ کړي او په اسانۍ سره د بدن ټولو غړو ته پر وخت وینه ورسوي.

ډاکټران دغه راز سپارښتنه کوي، د دې لپاره چې په چغندرو کې شته کیمیاوي او اړین مواد د پخولو پر مهال له منځه ولاړ نه شي، نو سر او رېښې یې باید په چاقو پرې نه شي.

## ولې ماشومان د تېر په پرتله له کتاب سره لږ مینه کوي؟



په تېرو وختونو کې چې له اوسني وخت څخه په ځلونو اسانتیاوې کمې وې، کتاب د لویانو او کوچنیانو لپاره د وخت تېرولو تر ټولو ښه وسیله وه، خو دې کچې د بېلابېلو کسانو په منځ کې توپیر درلود. نوو ځوانانو به د مینې داستانونه لوستل، مشرانو به نوي کتابونه اخیستل او یا به یې هم له نورو خپلوانو د امانت په ډول راوړل، خو په ټوله کې د کتاب لوستل د اوسني وخت په پرتله ډېر عام وو. اوسمهال نوې ټکنالوژۍ، فلمونو، سریالونو، له کمپیوټر څخه ډېره گټه اخیستل او یا هم په ټولنیزو شبکو کې زیات بوختېدل د دې لامل شوي چې د کتاب لوستل او مطالعه کمرنگه شي.

هغه کسان چې د پوهنتون محصلین دي او موخه یې یوازې زده کړه ده، هغوی هم ډېر کله د خپل سمستر له معلومو کتابونو پرته ازاده مطالعه نه کوي، په داسې حال کې چې ازاده مطالعه د معلوماتو په زیاتولو کې په بې ساري ډول مرسته کوي او په هره برخه کې یې د معلوماتو زېرمه زیاتېږي. دا هم مه هېروئ چې کتاب د انسان تر ټولو ښه ملگری دی. د دې لپاره چې اولادونه مو د کتاب له لوستلو سره روږدي کړی، د مسیر ورځپاڼې په راتلونکو گڼو کې یې درته لارې چارې ښیو.